


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغاني » ليکنه

د نشرنيټه : 28 مارچ 2023 ميلادی

# د بشر سعادت په څه کی دی ؟

ګران لوستونکی به د دی پو ښتنی د ځواب د پاره هر يو ځانله څه په خيال کښی لری .
هو : د پوهانو فکر يو وخت داسی مرتبی ته رسيږی چه واړه واړه شيانو ته اهميت نه ورکوي او په تدريجي صورت سره د کور ځينی کلي ته ؛ او د کلي ځينی قری ته ؛ او د قری ځينی علاقی ته ؛ او دعلاقی ځينی سمت ته ؛ او د سمت ځينی مملکت او وطن ته ؛ او د وطن ځينی دنيا ته د فکر وړانګی او پلوشی خپروي او د دنيا اصلاح او اتحاد او ترقي او ارامي د نظر لاندی راولی .
دارنګه افکار د هغو اشخاصو په نصيب کيږی ، کوم چه د دوی اصلاحی سير او حرکت ځينی د بنی تربيي په مرسته مخ په انسانيت روان وی .

په ياد لری : کوم هغه وطن او جامعه چه هلته پوهان خپل مسووليت پيژنی ؛ په داسی جامعه او وطن کښی خلک ډير د روښانه احساساتو خاوندان وي او د عمل عوامل او بنيادئی او دحيات او ژوند ثانيي او دقيقی ئی ټول د اصلاحي افکاراو د بشر د سعادت د تارونو ځينی بوده او تنسته وي.

شک نه شته چه که نن په دنيا کی له يوی خوا سخت زور او ظلم او د سياست په طلسمی پرده کښی رنګا رنګ چلونه او چانسونه روان دي ، ليکن؛ له بلی خوا آه او فريادونه شته او د بشر د حقوقو او د آزادی او ارامی او سعادت د پاره ئی خبری اتری اوريدل کيږی.

که څه هم په زړونو کښی به هر څه وي او افکار به د حرص په مرض عليل وي، ليکن ؛ حقيقت دا دی چه ځينی خلک د بشر د سعادت اوازونه هم پورته کوي او دا هم ده چه په دی اوازونو کښی د دنيا مصلح سياسيون تبصری کوي او په تبصرو سره پوشيده او مرموزه اسرار او اعراض کشفوی او وائی چه نن په داخبره کښی دا مقصد دی او په دا کښی دا ... !

بايد ووايم : چه نن په دنيا کښی له يوی خوا سخت روحی امراض او اجتماعي مفاسد ليدل کيږی او له بلی خوا ، د يو هانو هلی او ځلی قابل الترحم معلوميږی.

بیاهم نا امیدی په کار نده او دومره باید مایوسه نشو چه د بشر د سعادت د پاره به هیڅ نکړو او دا ځکه چه قدرت د هر انسان په خټه او سرشت کښې متضادی قواوی تخلیق کړی دی.

هو : بخل ، حسد ، حرص ، کینه ، ظلم ، تعبدی، غدر، خیانت او داسی نورعلمي او اخلاقي او اجتماعی ، او ادبي او سیاسي مفاسد او خطاوی ؛ که د حضرت انسان ځنی ترشح او بروز کوي لکن ؛ ربښتیا خبره داده چه په هم دا انسان کښی دا قوت او طاقت او صفت هم شته چه د عاجزانو سره مرسته کوي او د خپل لاس ګټه او حاصل د خلکو په رفاه او اسایش کښی مصرفوي او هم د خلکو د خطاوو ځنی عفوه لری او د عفوی ځنی وروسته بیا په صاف زړه محبت او خدمت کوی .

هم د ا انسان دی چه د انسان د پاره ئی علمي او اخلاقي ، اجتماعي او ادبي او سیاسي لیاری او پانګی پیدا کړی او د تمدن او د اجتماع په برکت ئی انسان د وحشت او بربریت ځنی خلاص او په علمي او فني ، زراعتي او اقتصادي چارو سره ئی د حیات په مستریحو مراحلو او مراتبو پوه او خبر کړ .

مقصد دا چه که څه هم په انسان کښی منفي قواوی شته ؛ او دا منفي قواوی کله شدت او غلیان لري او د دنیا هوا تاریکوي. لیکن ؛ د انسان سره لکه چه مخکی مو وویلی دا قوت او طاقت هم شته چه د مثبتو قواوو په برکت د حیات فضاء صافه وي او د بشر د سعادت د پاره خدمت کوي.

زما په عقیده : د بشر حقیقي سعادت به هلته حاصل شي چی مادیت او روحانیت تعادلي رنګ قبول کړي ! ځکه دا فکرغلط دی چی دنیا یوازی د مادیت په اساس قائمه ده ، او هر څه به په همدا کښی وي چه مادی شیان لوړ شي .

همدا رنګه دا هم صحیح نه ده چه په دنیا کښی به یوازی روحانیت د حیات اساس وي ! نه بلکه باید دا دواړه په تعادل سره صورت او اساس پیدا کړي.

نو پدی اساس د دنیا پوهان دي چه د مادیت او روحانیت د تعادل د پاره خدمت پیل ، او د روحي او نفسي مهمو امراضو دی په ښه شان سره علاج او اجتماعي لیار ښونی وکړي.

« سعید افغانی »

د ۱۳۵۲ هجري شمسي کال ـ کابل

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

بازګشت به صفحه اصلی ـ www.said-afghani.org